# د اولاد په روزنه کې بې پروايي

ژباړن: دکتور رحمت الله زاهد

لیکوال: محمد بن ابراهیم الحمد

# د اولاد په روزنه کې بې پروايي

## (بيلګې او د علاج لارې)

ليکنه: محمد بن ابراهيم الحمد
ژباړه :رحمت الله زاهد

سریزه:

اولاد د الله تعالى ډیر لوی نعمت دی، که هغه د زامنو په شکل کې وي یا د لوڼو په شکل کې، او د دې نعمت احساس هغه چا ته کیږي چې ورځخه محروم وي.

کله چې الله تعالى په چا احسان وکړي او هغه ته اولاد ورکړي نو د دغه لوی نعمت د شکرانې په ډول دې د هغوی سالمه روزنه وکړي، تر څو چې دغه اولاد د خپل مور، پلار، کورنۍ او ټولنې لپاره د امن، خوشحالۍ او سوکالۍ سبب وګرځي، او که سالمه روزنه یې ونه کړي نو د مور، پلار، کورنۍ او ټولنې لپاره به د نقصان او ستونزو پیدا کیدو سبب وګرځي، او د دې پر ځای چې هغوی د ټولنې بار پر خپلو اوږو پورته کړي، په خپله به په

ټولنه باندې بار شي، او د فساد لامل به شي.

مونږ چې مسلمان امت یو، مونږ د اولاد او ټولنې د روزنې لپاره خپل قوانین او اصول لرو چې هغه مونږ ته خپل دین را په ګوته کړي دي، نو په کار ده چې مونږ د خپل اولاد روزنه په هغه اصولو وکړو چې زمونږ د دین، کلتور او عنعناتو سره برابر وي.

د افغانستان خلک عموما او خصوصا پښتانه د اولاد په روزنه کې د ډیرې بې پروایي څخه کار اخلي او د هغوی روزنې او اصلاح ته چې لکه څرنګه مناسبه وي هغه شان پام لرنه نه کوي.

نو د دې لپاره چې مونږ د هغه اصولو سره اشنا شو چې د هغې په واسطه مونږ د خپل اولاد روزنه وکړو، دا وړوکې کتاب د عربي ژبې څخه ژباړل شوی دی تر

څو هغه ورونه او خويندې ترې ګټه پورته کړي څوک چې د خپل اولاد سالمه روزنه غواړي.

دا کتاب سره له دې چې حجم يې ډير کم دی خو ټول هغه څه چې د اولاد په روزنه کې ورته اړتيا ليدل کيږي په لنډ توګه په پوره ډول بيان شوي دي، نو له دې امله د ژباړې لپاره غوره شو.

دلوی الله (جل جلاله) څخه هيله لرم چې د ليکوال او ژباړونکي په کوشش کې برکت واچوي او دا کتاب زمونږ د راتلونکي نسل د روزنې لپاره د لارې مشال وګرزوي، آمين.

*رحمت الله زاهد*

دليکوال سر ليک:

اولاد د مور او پلار سره يو امانت دی چې د دې په هکله ورځخه د قيامت په ورځ پوښتنه کيږي، د اولاد په روزنه کې بې پروايي کول يوه ښکاره غلطي، په امانت کې خيانت او ديني تاوان دی.

کور د اولاد لپاره لومړنی ښوونځی دی، کور د ټولنې د جوړښت لومړنۍ خښته ده، هغه کور چې په کې د الله تعالی د حکمونو ساتنه کيږي، د مينې، محبت، نرمۍ او سرښندنې په ستنو ولاړه وي، په داسې کورنۍ کې د ټولنې لوی سړي او ښځې پيدا کيږي چې د ټولنې لارښوونه کوي.

اولاد مخکې له دينه چې په ښوونځي او ټولنه کې وروزل شي، په کور او کورنۍ کې روزل کيږي، اولاد د مور او پلار د کړو وړو بدله ده، مور او پلار د اولاد

د بد چلن او اخلاقي فساد ذمه وار دي، امام ابن قيم (رحمه الله) وايي: ځومره خلک دي چې خپل اولاد يې د بد بختۍ خواته بيولې دی، هغوی يې د دنيا او آخرت په هکله بيکاره پريښې دي، هغوی ته يې ادب نه دی ورکړی او نه يې ورسره د ستونځو په حل کولو کې مرسته کړی ده، دوی فکر کوي چې په دې کار سره دوی د اولاد درناوې او عزت کول غواړي خو په حقيقت کې د دوی سپکاوې کوي، پر دوی د رحم پر ځای ظلم کوي چې په نتيجه کې ورته د اولاد له خوا هيڅ گټه نه رسي، او د دنيا او آخرت د برخې ځخه يې هم محروم کړي، په ډيرو وختونو کې د اولاد د مور او پلار له خوا فاسديږي.

په راروانو کرښو کې به د اولاد په روزنه کې د نيمګرتيا او بې پروايي په اړه څېړنه کيږي چې لاندې برخې لري:

١- اولاد په روزنه کې له بې پروايي څخه ډډه کول.

٢- د اولاد په روزنه کې د بې پروايي بېلګې.

٣- يو څو پوښتنې.

۴- د اولاد روزنه د سلفو د تاريخ په رڼا کې.

۵- کلکه اراده.

۶- د اولاد د روزنې لارې چارې.

په اخر کې د لوی او متعال الله (جل جلاله) څخه هيله لرم چې زمونږ نيتونه او اولاد نيک وګرزوي او زمونږ سره د ځان او اولاد په روزنه کې مرسته وکړي، بې له شکه الله تعالی په هر څه باندې طاقت لرونکې دی. ***محمد بن ابراهيم الحمد***

## د اولاد په روزنه کې د بې پروايي څخه ډډه کول:

لکه څه رنګه چې د مور او پلار په اولاد حق شته، اولاد هم په مور او پلار حق لري، او لکه څه رنګه چې الله تعالی مونږ ته د مور او پلار سره د ښه چلن امر کړی دی، دغه شان يې راته د اولاد سره هم د نيکۍ کولو حکم کړی دی.

قرآن او سنت د اولاد سره په ښه سلوک او هغوی ته د امانت په ادا کولو حکم کوي، او د هغوی په حق کې يې د بې پروايي او کوتاهۍ څخه منع کړي ده، الله تعالی وايي چې:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا ﴾ **النساء: ٥٨**

"بې له شکه الله تعالی تاسو ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ".

او په بل ځاي کې وايي چې:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَخُونُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ وَتَخُونُوٓاْ أَمَٰنَٰتِكُمْ ﴿٢٧﴾ ﴾ الأنفال: ٢٧

"ای د ایمان خاوندانو! تاسو د الله، د هغه د رسول او د خپلو ځانونو سره خیانت مه کوی.

بل ځاي کې الله (جل جلاله) فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴿٦﴾ ﴾ التحريم: ٦

ژباړه: "ای د ایمان خاوندانو خپل ځانونه او کورنی د هغه اور څخه

وساتئ چې د سون مواد يې انسانان او كاڼي دي، پر هغې ډيرې سختې او طاقت لرونكي فرشتې مقررې دي، چې د الله تعالى د حكم څخه سر غړونه نه كوي او هغه څه ترسره كوي چې حكم يې ورته وشي".

او د الله تعالى ستر پيغمبر محمد (صلى الله عليه وسلم) وايي چې: "تاسو هر يو شپونكې (ساتونكې) يئ، او د هر يو څخه به د هغه د لاس لاندې خلكو په اړه پوښتنه كيږي، د قوم مشر د خپلو خلكو ساتونكې دى او د هغه څخه د هغوى په هكله پوښتنه كيږي، سړى د خپل كور ساتونكې دى او د هغه څخه به د خپل كور په هكله پوښتنه كيږي". (دا حديث امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله

په خپلو کتابونو کې روايت کړی دی).

په بل مبارک حديث کې دي: "الله تعالی چې څوک د يو چا د ساتني مسئول وګرزوی او د مرګ په وخت دی له هغوی سره خيانت کوونکې وي نو الله تعالی به پر هغه جنت حرام کړي". (بخاری او مسلم).

## د اولاد په روزنه کې دبې پروايي بيلګې:

د اولاد روزنه ډير لوی مسئوليت دی، خو د دې سره ډير خلک په دې مسئوليت کې کوتاهي کوي، دې مسئوليت ته په سپک نظر ګوري، او پوره حق يې نه ادا کوي چې له دې امله د خپل اولاد ژوند بربادوي، په روزنه کې يې بې پروايي

کوي، نه د خپل اولاد څخه پوښتنه کوي، نه هغوی ته خبرداري ورکوي، خو چې کله د اولاد بې لارې او سرکشي ووينې نو بيا ګيلې کوي، او په دې نه پوهيږي چې د هغوی د بد اخلاقۍ او بې لارې کيدو اصلي لامل هم دې په خپله دی.

د اولاد په روزنه کې د بې پروايي ډير شکلونه او بيلګې دي چې د اولاد د بې لارۍ سبب کيږي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

۱- خپل اولادپه بې زړه توب او ويره عادت کول: ځينې خلک د اولاد په روزنه کې د يوې ناوړه طريقې څخه کار اخلي، او د ژړا په وخت کې يې ويروي لکه: چپ شه سپې راغې، هغه ده پيشو ده، بلا

دې وړي، فلانکې سپي خوړلې دی تا هم خوري او داسې نور.

د ويرولو په طريقو کې تر ټولو ناوړه د استاذ، مدرسې او ډاکترڅخه ويرول دي، په دې صورت کې اولاد بزدله اوبې زړه لويږي چې بيا د هر شي څخه ويره کوي اګر که د ويرې شي هم نه وي.

د ماشوم په زړه کې په دې هم ويره پيدا کيږي چې کله هغه پر ځمکه راپريوځي، يا ترې وينه وبهيږي نو د دې پر ځای چې مور تسلي ورکړي يا ورته وخاندې تر څو ماشوم بې زړه نه شي، نوهغه ورته په چېغو شي، فرياد شروع کړي، خپل مخ او سينه په لاسونو وهي، په دې صورت کې که ماشوم ټپي هم نه وي خو د مور د حالت په ليدو بې

زړه شي، وار يې خطا شي او بيا دا بې زړه توب يې په هميشنۍ ويره بدل شي، په وړه خبره ژاړي، د ويني په ليدو وار خطا کيږي او لږ درد هم نه شي زغملی.

۲- د دې په مقابل کې ماشوم ډير زړور عادت کول هم نه دي په کار چې د هيڅ چا پرواه نه کوي، د خلکو احترام نه ساتي، او بيا د هغه بې ادبۍ ته د بهادرۍ نوم ورکول چې دا ماشوم ډير زړور دی د هيڅ چا پرواه نه ساتي.

۳- خپل اولاد په ډير ناز ساتل او نازبين عادت کول نه دي په کار ځکه چې بيا به يې ټول فکر د ځان سره وي او د نورو خيال به نه ساتي، نه به د خپلو مسلمانانو ورونو د حال څخه خبر

وي، نه به د هغوی په خوشحالو خوشحاله او نه به د هغوی په خفګان خفه کيږي، دا قسم روزنه د انسان د بهادرۍ او زړورتوب خلاف ده.

۴- په ماشوم ډير خرڅ کول او هر څه چې غواړي ورته اخيستل: ځينې مور او پلار هر شی چې اولاد يې ورڅخه وغواړي ورته يې ورکوي، او هيڅ شی ورڅخه نه منع کوي، په پراخه لاس پرې خرڅ کوي، په دې صورت کې اولاد د مور او پلار د مال په بې ځايه مصرف کولو عادت کيږي، اسراف کوي، او د مال د لګولو ځای نه پيژني.

۵- د دې قسم څخه يو دا هم دی چې ماشوم ته د ژړا په وجه يو شی ورکړل شي، مثلا: چې کله ماشوم څه وغواړي او

ورنه کړل شي نو وژاړي او د ژړا وروسته ورته هغه شی ورکړل شي، په دې کار سره بیا هغه ژړا د خپل هدف د لاسته راوړلو وسیله وګرزوي، او چې لوی شي نو هم خپل حق په ژړا غواړي تر دې پورې چې خپله آزادي هم بیا په ژړا غواړي.

۶- په وړوکتوب کې خپل اولاد ته موټر اخیستل: ځینې پلرونه خپل اولاد ته په وړوکتوب کې موټر واخلي په دې خاطر چې اولاد یې زیاته غوښتنه لري، یا پلار خپل ځان د کور د مسئولیت څخه خلاصوي، او مسئولیت د اولاد په غاړه ور اچوي، یا د بلې کومې وجې څخه، په دې حالت کې موټر د اولاد د بې لارۍ سبب شي، د شپې ګرځي، د کور څخه ډیر

وخت بهر تيروي، د بد اخلاقو هلکانو سره ملګرې شي، خلکو ته تکليف ورکوي، د مکتب نه غير حاضري کوي، تر دې چې د مور او پلار د امر څخه سرغړونه شروع کړي، د هغوی خبرو ته غوږ نه نيسي او نه پرې عمل کوي.

٧- په اولاد ډيره سختي کول: د اولاد وهل، ټکول، په هره لويه وړه خبره د هغوی سپکاوی کول، هغوی ته ردې بدې ويل،داد اولاد سره د سختۍ هغه شکل دی چې د هغوی د سرغړونې سبب ګرځي.

٨- په اولاد بخل کول: که يو طرف ته په اولاد باندې په خرڅ کې اسراف نه دی په کار، نو بخل کول هم هغوی ته ضرر رسوي، د بخل په صورت کې اولاد د ضرورت احساس کوي، او کله خو بيا په

ناوړه طريقو د مال د پيدا کولو کوشش کوي، لکه: غلا، سوال، او د داسې هلکانو سره دوستي کول چې په جرمونو عادت وي.

٩- د مينې، محبت او نرمۍ څخه د اولاد محروموال: د اولاد سره مينه او محبت نه کول د دې سبب ګرځي چې بيا هغوی د کور څخه بهر داسې يو څوک لټوي چې ورسره مينه او محبت وکړي، په دې شکل سره اولاد د بد اخلاقۍ طرف ته ځي.

١٠- د اخلاقي روزنې پر ځای هغوی ته ښکاره اسانتياوی برابرول: مثلا: ښه خوراک څښاک، ښايسته کالي، لوړې زده کړې، دخلکو په مخ کې په ښه شکل ناسته ولاړه، او د دې په مقابل کې د هغوی د ديني او اخلاقي روزنې څخه بې

پروايي کول،د روزنې ناقص ډول دی چې ډېر پلرونه ورته پاملرنه نه کوي.
۱۱- پر اولاد د حد څخه زيات ښه گمان کول: ځينې پلرونه پر اولاد باندې په ښه گمان کې د حد څخه اوړي، د هغوی څخه پوښتنه نه کوي، و هغوی د حالاتو پلټنه نه کوي، د هغوی د ملگرو په اړه معلومات نه لري، چې د اولاد ناسته ولاړه او گرځيدل د چا سره دي، په هغوی دومره باور کوي چې د هغوی په هکله د هيڅ چا خبره نه شي زغملې، خو چې کله يې اولاد په څه مصيبت کې اخته شي، يا بې لارې شي او پلار ته يې د هغوی په هکله څه وويل شي نو بيا د هغوی لپاره عذرونه لټوي، او نصيحت کوونکې په دې تورنوي چې د دوی په

کار کې مداخله کوي.

۱۲- د دې په مقابل کې په اولاد ډېره بد گمانی کول، د هغوی په نیتونو شک کول، هيڅ کله په هغوی باور نه کول، د هغوی څخه د هر کار په هکله پوښتنه کول او هغوی ته دا ښودل چې زه ستاسو هر لوی او وړوکی کار تعقیبووم، دا کار د هغوی د بې جرأته او په ځينې وختونو کې د فساد لامل گرځي.

۱۳- د اولاد تر مینځ فرق کول: ځينې خلک د اولاد تر مینځ فرق کوي، او د عدل او انصاف څخه کار نه اخلي، د ځينو بچو سره مينه ډيره کوي، هغوی ته ډالی راوړي، ښيگړه ورسره کوي، خوله نور سره بيا دغه چلند نه کوي، دا کار د اولاد تر مينځ حسد او کينه

پیدا کوي، او د یو بل سره یې کرکه پیدا کیږي.

ځینې خلک خپلو مشرانو زامنو ته ډیر مال ورکوي، موټر ورته اخلي، واده ورته وکړي، ځمکه او جایداد ورته ورکړي، کور ورته جوړ کړي، او چې کله تري د کشرانو زامنو یا لوڼو په هکله پوښتنه وشي نو وايي چې کله دوی لوی شي نو ورته به یې ورکړي، او چې لوڼه یې واده شي نو خاوندان یې پوهه شه او دوی.

دا کار خطا او د اولاد تر مینځ د عدل خلاف دی، ځکه دا مسئولیت به څوک واخلي چې دا پلار به د کشرانو زامنو تر لویدو پورې ژوندې وي، دا مال او دولت به له ده سره وي، بل پلو ته

لونه د پلار سره حق لري، د هغه په ميراث کې برخه لري اګر که واده شي، نو پکار ده چې پلار يو زوی ته څه ورکوي هغه ټولو ته ورکړي يا يې هغوی ته وساتي، او يا چا ته چې مال ورکړل شي بايد د هغه څخه ليک واخستل شي تر څو دغه مال ورته بيا په ميراث کې حساب کړل شي.

۱۴- بلوغ ته د رسيدو سره د توان په وخت کې زامنو ته واده کول: ځينې پلرونه د توان سره په وخت خپلو زامنو ته واده نه کوي چې له امله يې زامن په بې لاری او بد اخلاقی اخته کيږي.

۱۵- د لونو په ورکولو کې ورسته والی او پر هغوی تجارت کول: دا يوه لويه

غلطي ده چې پلرونه خپلې لونه د بلوغ وروسته هم چا ته نه ورکوي په ځانګړې ډول چې لور وظيفه ولري، ځکه په دې صورت کې پلار ويريږي که لور چاته ورکړي نو د لور تنخواه به د ده څخه بنده شي، يا په دې وجه لور نه ورکوي چې ډير مهر ورکوونکې ورته نه پيدا کيږي، دا کار په لونو باندې ظلم کول دي، او کيداى شي چې د لور غوښتونکي يې نا أميده شي او بيا يې هيڅ څوک غوښتنه نه کوي، نو پلار به يې په ګناه کې اخته شي.

۱۶- د لونو په ورکولو کې د دين او اخلاقو خيال نه ساتل: ډير خلک کوشش کوي چې خپله لور د لوړ منصب، ډير مال خاوند يا خپلوانو ته ورکړي اګر

که ددين او اخلاقو په لحاظ کمزورې وي، دا يوه غلطي ده، په کار ده چې د لور په ورکولو کې د ټولو مخکې د دينداري او اخلاقو اړخ ته وکتل شي.

١٧- د لوڼو په پيدا کيدو خفګان ښرګندول: دا کار که يو طرف ته په راتلونکې کې د لور په روزنه بده اغيزه کوي، نو بل طرف ته په عقيده کې د نقصان ښکارندوی عمل هم دی.

ځينې خلکو ته چې الله تعالی لور ورکړي نو هغه پرې خفه کيږي او په دې کې هيڅ شک نشته چې دا کار د مشرکانو عادت وو چې په لوڼو به خفه کيدل، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلْقَوْمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓ ۚ أَيُمْسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُۥ فِى

ٱلتُّرَابِۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿٥٩﴾ ﴾ النحل: ٥٨ – ٥٩

«کله چې په دوی کې یو ته د لور زیرې ورکړل شي نو د قهره یې مخ تور شي، له شرمه د خلکو څخه پټیږي او غواړي چې خپله لور پټه وساتي او یا یې په خاوره کې خښه کړي، دا ډیره ناوړه فیصله ده»

د اوسنی زمانې حالت د جاهلیت څخه کم نه دی، که چرته د مسلمانانو په کوم هیواد کې زیږنتون ته لاړ شي او د هغه چا حالت معلوم کړي د چا چې لور شوي وي او خبرې ورسره وکړي نو د مشرکانو د خبرو سره به یې توپیر نه وي، د لور په پیدا کیدو خفګان کول ناوړه پایلی لري چې ځینې یې دا دي:

- دا د الله تعالی په تقدیر نیوکه کول دي.

- د شکر پر ځای د الله تعالی د نعمت بې قدري ده.

- داد مشرکانو له اخلاقو سره سمون دی.

- د کم عقلی، ناپوهی او په عقیده کې د نقصان نښه ده.

- ښځه په هغه څه مجبورول دي چې د هغې په وس کې نه دي.

- دا د ښځې سپکاوې او د هغې بې عزتي ده.

۱۸- اولاد پر بد نوم نومول: بد نوم یو داسې شی دی چې د تل لپاره د ماشوم او د هغه د کورنی لپاره د شرم سبب وي، ځکه دغه نوم ده ته په کور کلې

کې ويل کيږي، د ده په پيژند پاڼه، شهادت نامه، او د ثبت په دفتر کې ليکل کيږي.

د بدو نومونو يو څو بيلګې په لاندې ډول دي:

الف: هغه نوم چې شرعا حرام وي، مثلا: هغه نوم چې په الله پورې خاص وي، لکه: الله، رحمان، خالق، او داسې نور، يا هغه نوم چې په هغه کې د الله تعالى پرته د بل چا د عبادت معنى پرته وي، لکه: عبد النبي، عبد الحسين، او داسې نور، په دغه ډول د کافرو نومونه ايښودل، لکه: جورج، ډيويډ، مايکل، جوزيف، ډيانا او داسې نور، په کار ده چې د "ډيويډ" پر ځاي

"داود"، او د "جوزيف" پر ځای "يوسف" نوم کيښودل شي.

ب : هغه نوم چې مناسب نه وي، مثلا: د ظالمانو سرکشانو نومونه، لکه: فرعون، هامان، قارون، مارکس، لـ ينن او داسې نور.

ج : هغه نومونه چې د ادب څخه خلاف وي، لکه: خر، سپې، پيشو او داسې نور.

د: هغه نومونه چې د خندا وړ وي، لکه: مرچ، مولی، ګازره، ټيپر او داسې نور.

١٩- د کور څخه بهر ډير وخت تيرول: ځينې پلرونه خپل کور شاته پريږدي او ډير وخت د کور څخه بهر تيروي چې دا کار د اولاد د بې لارۍ، بد اخلاقی

او ناپوهی سبب ګرځي، د کور ځخه د بهر اوسيدو يو څو بېلګې به لاندې ډول دي:

أ- د تجارت لپاره ډير وخت بهر تيرول.

ب- د کار کسب او چکر لپاره.

ج - د ملګرو سره د سيل او تفريح لپاره.

د- دوهمې ښځې سره اوسيدل او لومړنی ښځې ته شا کول.

ه - د کور ځخه د ډير وخت لپاره وتل او داسې نور.

۲۰- اولاد ته ښيراوې (بد دعا) کول:

ډير پلرونه او ميندې په لوړه غلطی خپل اولاد ته ښيراوې کوي چې: الله دې ځوانې مرګ کړه، الله دې په موټر ووهل

کړه، الله دې ړونداو کوڼ کړه، او داسې نور.

مور او پلار نه پوهيږي چې کيداى شي دا ښيراوې په داسې وخت کې وشي چې هغه د قبليدو وخت وي او دغه بد دعايې د اولاد په حق کې قبوله شي، نو بيا به دوى پښيمانه وي.

دعا او ښيراوې د کانې په شان دي چې ځينې يې په چا ولګي او ځينې يې خطا شي، د دې وجې نه پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) فرمايي چې: "خپل ځان، اولاد او مال ته ښيراوې مه کوئ هسې نه چې د هغه وخت سره سمون وخوري چې الله تعالى په کې دعا قبلوى" (دا حديث امام مسلم روآيت کړى دى).

۲۱- پر بد اخلاقۍ او ناوړه کارونو روزل: لکه بدو مجلسونو ته بوتلل، د کافرو سره په لباس کې يو شان والی، لونه په لنډ او تنګ لباس عادت کول، په بدو خبرو او کنځلو عادت کول، يا د هغوی په مخ کې بدې خبرې کول، دغه رنګ هغوی ته بد نوم اخيستل هم په بدو خبرو د عادت کيدو سبب ګرځي.

۲۲- د اولاد په مخکې ناوړه کار کول: لکه سګريټ څښل، ږيره خرول، سندرې اوريدل، ناوړه فلمونه کتل، د لونو په مخکې د مور ځان لوڅول، د کور څخه پرته له اړتيا څخه وتل، او داسې نور چې په دې کار سره مور او پلار د اولاد لپاره بده نمونه ګرځي.

۲۳- کور ته ناوړه شيان روارل: لکه هغه مجلې چې بربنډ عکسونه يا ناوړه ليکنې ولري، د بد اخلاقۍ شيان، هغه کتابونه چې د عشق او محبت قصې ولري چې بد فعلۍ ته بلنه ورکوي.

۲۴- د مور او پلار تر مينځ اختلافات هم د اولاد په روزنه بده اغيزه کوي، يوه لور يا زوی چې پلار ووينې چې د دوی مور وهي، ردې بدې ورته وايي، يا يې مور پلار ته سپکه وينا کوي نو د اولاد عکس العمل به څه وي؟

په دې کې هيڅ شک نشته چې د هغوی په دماغو کې په د شر خيال پيدا کيږي، حسد او کينه يې په زړه کې پيدا کيږي او د شر او فساد عاملين ګرځي.

۲۵- په وينا او عمل کې اختلاف: مثلا يو پلار اولاد ته د رشتيا ويلو، وعدې پوره کولو، په نيکۍ او صله رحمی امر کوي او په خپله دروغ وايي، وعده نه پوره کوي، د خپلوانو سره نيک چلند نه کوي، يا يې د نشې څخه منع کوي خو په خپله نشه يی شيان استعمالوی، نو اولاد د پلار د عمل څخه اثر اخلي او دغه کار شروع کوي او پلار ورته هم په نظر کې سپک ښکاري.

د دې خبرې مطلب دا نه دی چې که د پلار عملي اړخ کمزورې وي نو اولاد ته دې نصيحت نه کوي، په نيکۍ امر او د بدۍ څخه دې نه منع کوي، بلکه مطلب دا دې چې په دې صورت کې د پلار نصيحت اثر نه کوي.

۲۶- د نوکرو ښځو په واسطه د اولاد روزنه کول: په خاص ډول چې هغوی کافرې هم وي، دا کار د اولاد د بې لارۍ سبب ګرځي، او د هغوی په عقیدو کې فساد پیدا کیږي، او بد اخلاقه روزل کیږي.

۲۷- د لوڼو پرته له محرم څخه بهر وتل: ځینې خلک لوڼه بازار ته بوځي چې هلته د ډیر وخت لپاره یواځې ګرځي، پلار، ورور یا بل شرعي محرم ورسره نه وي، په دې حالت کې هغوی د بد اخلاقۍ خوا ته مائل کیږي.

که څوک یې پلار یا ورور ته وایي چې ته ورسره ولې نه ځې نو وایي چې که ما ورسره څوک ووینې نو شرمیږم، سبحان الله! د انسانانو څخه حیا کوي او

د الله تعالی څخه حیا نه ورځي، د الله تعالی د عذاب څخه نه ویرېږي، د لونړو د بد اخلاقی څخه نه شرمیږي، خپلې ګڼې چېلی خو پرته له شپون څخه یواځې نه څروي آیا د ده عزت د ګډو او چیلو څخه هم ډیر ارزان دی؟

٢٨- تلیفون خالي پریخودل او د هغې څارنه نه کول: ډیر پلرونه په کور کې د تلیفون خیال نه ساتي، او نه یې څارنه کوي، او کله خو ځینې پلرونه هر زوی او لور ته د هغوی په اطاقونو کې تلیفون لږوي (اوس خو ګرځنده تلیفون د هر چا په جیب کې پروت دی) او په دې نه پوهیږي چې د تلیفون آزاد استعمال څومره ناوړه پایلې لري او څومره د فساد او بد اخلاقی ذریعه

ده.

۲۹- هغه څه چې اولاد يې لولي د هغې ځانه نه کول: لوستل فکر جوړوي، او په لوستونکې باندې مثبت يا منفي اثر لري، ځينې پلرونه د دې خيال نه ساتي چې اولاد يې څه لولي، او ورته د ګټه لرونکې مطالعې طرف ته لارښوونه کوي، او نه يې د بدو کتابونو د لوستلو څخه منع کوي.

۳۰- اولاد تحقيرول (سپکول) او د هغوی روحيه کمزورې کول، مثلا:

- د خبرو په وخت کې هغوی چپ کول، پر هغوی او د هغوی پر خبرو ملنډې وهل او داسې نور، په دې کار سره اولاد پر ځان اعتماد او باور له لاسه ورکوي،

بیا هغوی نه خبرېږي کولې شي او نه خپله رایه ښکاره کولې شي.

- د غلطۍ په صورت کې هغوی ته ردې بدې ویل، په دې کار سره په هغوی کې شرم او شکست پیدا کیږي او پلار ورته متکبر او لوی چارې ښکاري، او له دې امله د پلار او اولاد تر مینځ فاصله زیاتیږي، بیا پلار نه شي کولې چې په اولاد کې تاثیر وکړي.

- د هغوی ښه کار ته سپک کتل: ځینې پلرونه چې په اولاد کې تقوی، دینداري او پرهیزګاري ویني نو سپک یې ګڼي چې په دې کار سره هم اولاد بې لارې کیږي.

۳۱- اولاد ته کار نه سپارل: ځینې پلرونه خپل اولاد ته کار نه سپاري چې

هغوی يې تر سره کړي، يا خو د هغوی د راحت خيال ساتي، يا پرې اعتماد نه کوي، يا د هغوی د روزنې پروا نه لري، مثلا: د يو سړی ډير تجارتي مرکزونه وي، غټ کار وبار لري او د خپل کار د سمبالولو لپاره د بهر نه خلک راغواړي چې کله کله نامسلمانه کارکوونکي هم وي، يا د خپل وطن خلک په دغه کار ګماري او خپل زامن يې په کور کې بې کاره ناست وي، يا هغوی د بل چا سره کار کوي، نو په کار ده چې پلار د خپل کار په سمبالولو کې د خپل اولاد څخه کار واخلي، په هغوی اعتماد وکړي، او هغوی په کار اموخته کړي.

۳۲- اولاد ته د خپلې اصلاح لپاره مناسب وخت نه ورکول: کله چې يو پلار په وړه

غلطۍ خپل اولاد ته بد ګوري، او یا دغه غلطۍ نه هیروي، مثلا: چې غلا وکړي نو همیشه ورته غل وایي، که دروغ ووایي نو دروغجن نوم ورله کیږدي، مطلب دا چې دغه غلطۍ د هغه لپاره یو صفت وګرزوي، چې په نتیجه کې اولاد د دغه کار سره په طبعي ډول عادت شي او بیا د دغه کار څخه د ځان د ژغورلو فکر نه کوي، او نه داسې څوک بیامومي چې مرسته ورسره وکړي.

په داسې حالت کې باید پلار کوشش وکړي چې د اولاد دغه غلطي هیره کړي او هغوی ته د اصلاح مناسب وخت ورکړي، (نصیحت دې ورته وکړي، او د دغه کار په ناوړه پایلو دې پوهه کړي).

۳۳- د اولاد پر نفسياتو ځان نه پوهول: ډېر پلرونه د اولاد پر نفسياتو ځان نه پوهوي، او نه د هغوی طبعيت او مزاج پيژني، ځکه چې د هر چا ځان ته طبعيت او مزاج وي، ځينې اولاد زر په قهر کيږي، ځينې يخ او بيا ځينې درميانه وي، نو د ټولو سره يو شان چلند کول د هغوی د بې لارۍ سبب ګرځي.

۳۴- د اولاد د مختلفو مرحلو خيال نه ساتل: ځينې مور او پلار د خپل ځوان زوی سره داسې چلند کوي لکه يو ماشوم، حالانکه هغه به غټ سړی وي، دا کار د اولاد په مزاج بد اثر کوي، او هغه ته ځان سپک او کم معلوميږي.

۳۵- د نورو خلکو د اولادونو بد بيانول د دې سبب کيداى شي چې هغه عيبونه د ده په اولاد کې راپيدا شي،په کار ده چې په داسې وخت کې پلار د خپل اولاد د سلامتى دعا وغواړي.

۳۶- د مکتب خيال نه ساتل: پلار ته په کار دي چې د خپل اولاد د ښوونځې او روزنيز مرکز خيال وساتي، چې د اولاد ښوونکي يې څه وړ خلک دي، څه رنګ عقيده او اخلاق لري، او د ده هم صنفيان څه رنګ دي.

۳۷- غير اسلامي ښوونځيو ته ليږل: غير اسلامي مکتبونو ته خپل اولاد ليږل د هغوى د عقيدې او اخلاقو د خرابى سبب ګرځي، په ځانګړي ډول چې اولاد کوچنيان وي، يا ورسره د اسلام په

اړه پوهه کمه وي، او يا د تقوى په لحاظ کمزوري وي.

د خپل اولاد په هکله د هغوى د مدرسې او مکتب سره مرسته نه کول، او د هغوى خبر نه اخيستل هم د اولاد د بې لارى سبب ګرځي، (ځکه ډير ځله ښوونکې د ماشوم په روزنه کې د هغه پلار ته اړتيا لري).

د اولاد څخه د هغوى په مخکې دفاع کول: خصوصا په مکتب کې چې کله د مکتب مدير يا ښوونکې زده کوونکي ته په قهر شي، يا يې وهي، او بيا د هغه پلار راشي او د خپل زوى په مخکې د مدير يا ښوونکو سره بحث او جنګ کوي، د خپل زوى څخه دفاع کوي، په نرمه او معقوله توګه سره خبره نه کوي، نو د دې په نتيجه کې د مکتب مدير او

ښوونکې د زده کوونکي په نظر کې کمېږي، خپل ځان ورته غټ ښکاري، او بیا هیڅ چا ته غوږ نه نیسي، ځکه پوهیږي چې پلار یې تر شا ولاړ دی.

پوښتنه:

دا د اولاد په روزنه کې د بې پروایی یو څو بیلګې ، نو کله چې مونږ خپل اولاد په دې طریقه د سالمې روزنې څخه لیرې وساتو، نو مونږ به د هغوی څخه څه امید ولرو چې هغوی به د څه رنګ شخصیت خاوندان جوړ شي؟ آیا د دې بې پروایی سره مونږ د خپل اولاد څخه په سمه لاره د تللو هیله لرلې شو؟، په دې بې پروایی سره مونږ هغوی بې لاری ته چمتو کوو، نو څه رنګ به د هغوی څخه د سمون او کامیابی امید وکړو؟.

مونږ په خپل اولاد دا ظلم کووء او بيا د دې ناوړه روزنې سره چې کله مونږ هغوی عملي ژوند ته وړاندې کړوء نو که هغوی په خپل ژوند کې بې لارې کيږی يا په اخلاقي فساد اخته کيږيء نو د دې ټول مسئوليت په زمونږ په غاړه وي.

راځئ وګورو چې زمونږ روزنه زمونږ د مشرانو د روزنې سره څومره توپير لريء چې هغوی د خپلې روزنې په نتيجه کې مونږ ته نيکانو مشرانو پريښې ديء راځئ وګورو چې د دغه سترو شخصيتونو شا ته څوک ولاړ ووء او چا يې روزنه کړې ده؟

که مونږ فکر وکړو نو د هر ستر شخصيت شا ته يو لوی پلارء يا يوه عزتمنده

مور وي چې هغوى خپل اولاد په نيکو اخلاقو روزلي دي.

دلته مونږ د ځينې هغو ميندو يو څو مثالونه وړاندې کوو چې د پردې تر شا يې د خپل اولاد روزنه کړې ده.

## زمونږ د مشرانو د روزنې يو څو بېلګې:

1- زبير بن عوام (رضي الله عنه) د خپلې مور صفيه بنت عبد المطلب (رضي الله عنها) په غيږ کې روزل شوى وو، او د دغه عزتمندې ميرمنې په خوى او عادت لوى شوى وو.

د صفيه (رضي الله عنها) د زړورتيا يوه بيلګه د احد په جنګ کې ښکاره شوه، په هغه وخت کې چې د ابو سفيان ښځې د سيد الشهداء حمزه (رضي الله عنه) سينه څيرې کړه، زړه يې ترې راويسته،

غوږونه او پوزه يې ترې پرې کړل، د جنګ د ختميدو څخه ورسته چې کله د دواړو جهانو سردار محمد (صلى الله عليه وسلم) د خپل تره سره دغه ناوړه چلند وليد نو ډير زيات غم جن شو، خوا ته ورسره ودريده، ويې ليدل چې صفيه (رضي الله عنها) د خپل ورور د حالت د پيژندلو لپاره مخ په وړاندې راروانه ده، نو د الله ستر پيغمبر د هغې زوى زبير (رضي الله عنه) عنه ته وويل: "مور دې د مخ کې راتلو څخه منع کړه، په دې خاطر چې د خپل ورور سره شوى زړه بوګنونکې حالت ونه ويني".

کله يې چې زوى مخې ته ورغى نو مور ورته وويل: "مور دې مړه شه د مخې نه مې ليرې شه"، د مور په خبره د قريشو

د دغه زړور ځوان پښې ولړزيدې، ژبه يې بنده شوه او نبی (عليه السلام) ته ورغې او د مور خبره يې ورته وکړه، د الله رسول (صلی الله عليه وسلم) وويل: "پريږده چې راشي"، بيا د خلکو قطارونه د نبی (عليه السلام) د تررور لپاره خالي شول، تر دې چې هغه خپل ورور ته راورسيده، په ليدلو سره يې "إنا لله وإنا إليه راجعون" وويل, د هغې لپاره يې بخښنه وغوښته، او خپل زوی ته يې وويل: د الله پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) ته ووايه چې: "مونږ په هغه څه خوشحاله يو چې د الله تعالی په لار کې رارسيدلي، زه به د الله (جل جلاله) څخه اجر غواړم او صبر به کووم".

2- دغه شان د مسلمانانو څلورم خليفه علی (رضي الله عنه) هم د يوې زړورې مور په غيږ کې لوی شوی وو او د مسلمانانو د مور خديجې (رضي الله عنها) په خوا کې يې روزنه شوې وه.

3- د معاويه (رضي الله عنه) د روزنې شاته هم يوه عزت منده مور وه، کله چې معاويه (رضي الله عنه) پيدا شو، چا ويل: "دې که ژوندې پاتې شو د خپل قوم مشري به کوي"، مور يې ويل: "مور دې ورباندې بوره شي که د خپل قوم مشري يې ونه کړه"، معاويه (رضي الله عنه) به په فخر سره ويل: "زه د هنده زوی يم".

4- د عبد الله بن زبير (رضي الله عنه) روزنه هم د يوې بهادرې مور أسماء

بنت أبی بکر (رضي الله عنهما) په غیبر کې شوی وه، کله چې دغه زړورې مور ته د خپل زوی د مرګ خبر ورسیده نو ویې ویل: "هیڅ پرواه نه لرم ځکه چې د الله د پیغمبر یحیی (علیه السلام) سر یوې زنا کارې ښځې ته وړاندې شوی وو".

کله چې ورځخه خپل زوی د حجاج په مقابل کې د جنګ مشوره وغوښته نو ورته یې وویل: "ورشه او ورسره وجنګیږه، ځکه په الله تعالی مې دې قسم وي چې په سر لوړی د تورې ګوزار خوړل په ذلت سره د کوړی د ګوزار خوړلو څخه بهتر دی".

۵- د مسلمانانو د پنځم خلیفه عمر بن عبد العزیز (رحمه الله) تر شا د هغه مور أم عاصم د امیر المؤمنین عمر

(رضي الله عنه) لمسۍ وه چې د هغه روزنه يې په تقوی، زړورتيا او ديندارۍ کړې وه.

۶- د عمر بن عبد العزيز (رحمه الله) زوی عبد الملک چې د انسانيت يوه بېلګه وه، د پوهې او زړورتيا خاوند وو، د تقوی او عبادت نمونه وه، سره له دې چې د خپل عمر په نوولس (۱۹) کلنۍ کې يې د دې فاني دنيا څخه سترګې پټې کړې وې، د هغه د روزنې تر شا د هغه پلار عمر او د هغه مور فاطمه وه.

۷- سفيان ثوري د اسلامي أمت يو لوی پوه او عالم وو، د خپل يو ځانګړي فقهي مذهب امام، او په حديثو کې د

مسلمانانو امير وو، د هغه ستر شخصيت هم د هغه د مور د کوششونو نتيجه وه.
امام أحمد (رحمه الله) وايي: "د سفيان مور خپل زوی ته وويل: زويه علم زده کوه زه به ستا خرچ په خپله خرڅه پوره کووم".
دغی مور به په خپل لاس کار کوو، او په خپ
ل زوی به يې خرڅ کوو، تر څو چې زده کړه يې پوره کړه، امام أحمد (رحمه الله): "دغې عزت مندې مور يو وار خپل زوی ته وويل: کله چې ته لس کلمې ولیکې نو وګوره چې ستا په تقوی، صبر او عمل کې زیاتوالې راغلې دی که نه؟ که نه وي، نو پوهه شه چې دغه علم

تا ته د ګټې پر ځای تاوان رسوي".

۸- د اسلامي امت ستر عالم، د پوهې روان بحر امام شافعي (رحمه الله) هر څه د خپلې مور د روزنې په نتيجه کې تر لاسه کړي وو ځکه چې پلار يې په هغه وخت کې له دنيا څخه سترګې پټې کړې وې چې نوموړي د مور په غيږ کې وو، مور يې روزنه وکړه او هغه ځای ته يې ورسولو چې دنيا ورته ګوته په غاښ ده.

د اسلام ځلانده تاريخ د داسې خلکو څخه ډک دی چې د لوی والي تر شا يې په پردو کې پټې مياندې ولاړې دي، که په تيره زمانه کې د مور او پلار د روزنې په نتيجه کې دومره ستر شخصيتونه

پيدا کيداى شول نو اوس هم پيدا کيداى شي خو په دې شرط چې مور او پلار خپله دنده وپيژني.
زمونږ د ځوانانو د بې لارئ يو سبب د مور او پلار بې پروايي ده چې د خپل اولاد په هکله يې کوي، که مور او پلار کوشش وکړي او د روزنې په اسبابو او وسايلو عمل وکړي، او د دغه اخلاقي بې لارئ په علاج غور او فکر وکړي نو په اوسنۍ زمانه کې هم لوى شخصيتونه پيدا کيداى شي.

## د اولاد د روزنې لارې چارې:

د اولاد د ښې روزنې لپاره ځينې لارې شته چې د مور او پلار سره د اولاد په روزنه کې مرسته کولې شي، خو په دې شرط

چې هغه په سمه توګه عملي کړای شي، هغه لارې په لاندې ډول دي:

1- د نيکې ښځې سره واده کول: يو سړی چې کله واده کول وغواړي، نو په کار ده چې د الله تعالی څخه دې د استخارې په شکل کې مشوره وغواړي، د تجربه لرونکو او هوښيارو خلکو سره دې مشوره وکړي، ځکه چې ښځه د اولاد مور ده او اولاد د خپلې مور په اخلاقو او کړو وړو روزل کيږي، دغه شان د ښځې په خپل خاوند هم اثر وي، ځکه خو ويل کيږي چې: "سړی د خپلې ښځې په طريقه ځي"، ځکه سړی د خپلې ميرمنې طرف ته مائل کيږي او د هغې سره مينه او محبت خاوند د هغې د خبرې په منلو مجبوروي.

ابو الأسود الدؤلي خپلو زامنو ته ويل: "اى زامنو! ما ستاسو سره په کوچنيتوب، لوى والي اود زيږيدلو څخه مخکې نيکي کړي ده"، هغوى ورته وويل: "د زيږيدو څخه مخکې تا مونږ سره څه رنګ نيکي کړي ده"؟ هغه ورته وويل: "ما ستاسو لپاره داسې مور نه ده غوره کړى چې د هغې له امله دې تاسو ته کنځل وشي".

2- د الله تعالى څخه د نيک اولاد غوښتنه کول:

﴿ هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٨﴾ ﴾ آل عمران: ٣٨

دا د پيغمبرانو او نيکانو خلکو طريقه وه چې هغوى د الله تعالى څخه د نيک اولاد غوښتنه کوله، زکريا (عليه

السلام) غوښتنه وکړه چې: "ای ربه! ما ته د خپل طرف څخه نیک اولاد راکړه، بې له شکه ته زما دعا اورې"،

﴿ وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٖ وَٱجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ٧٤ ﴾ **الفرقان: ٧٤**

د الله تعالی د نیکانو بندګانو یو صفت دا دې چې هغوی دا دعا کوي: "ای زمونږ ربه! مونږ ته د خپلو میرمنو او اولاد په واسطه د سترګو یخ والې په نصیب کړه، او مونږ د پرهیزګارانو لپاره نمونه وګرځوه"،

3- د اولاد په پیدا کیدو خوشحاله کیدل او د خفګان څخه ډډه کول: ځکه چې اولاد د الله تعالی ورکړه ده، او مسلمان ته په کار ده چې د الله تعالی په ورکړه خوشحاله شي، هغه ځوي وي که

لور او که لور، او د مسلمان لپاره دا جائز نه دي چې د اولاد په پيدا کېدو خفه او خپله سينه پرې تنګه کړي، او په هغوی باندې د خرڅ کولو څخه ووېرېږي، ځکه چې الله تعالی ټول مخلوق ته رزق ورکوونکې دی، الله تعالی فرمايي:

﴿ نَّحۡنُ نَرۡزُقُهُمۡ وَإِيَّاكُمۡۚ ﴿٣١﴾ ﴾ الإسراء: ٣١

"مونږ هغوی ته رزق ورکوو او تاسو ته هم"

دغه شان د لوڼو په پيدا کېدو خفه کېدل هم يو حرام او ناوړه کار دی، او دا کار د جاهليت د زمانې د خويونو څخه دی، او د الله تعالی په تقدير باندې نيوکه ده، د لوڼو غوره والې د چا څخه پټ نه دی، هغوی لوڼه

دي، خوينډې دي، ميندې دي، او د ژوند د تيرولو ملګري دي، ښځه د انساني ټولنې نيمه برخه ده، او پاتې نيمه برخه هم له دوى څخه پيدا ده، نو وويلې شو چې ټوله ټولنه د ښځو څخه جوړه ده.

د لونړو پيدا کيدل د الله تعالى ورکړه ده:

﴿ لِّلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴿٤٩﴾ ﴾ الشورى: ٤٩

"د اسمانونو او ځمکو بادشاهي يواځې الله لره ده، هر څه په خپله خوښه پيدا کوي، په خپله خوښه چا ته لونړه ورکوي او چا ته زامن"

د اسلام ستر پيغمبر محمد (صلى الله عليه وسلم) وايي چې: "چا ته چې الله تعالى

لونه ورکړي او د هغوی سره نیکي وکړي، نو الله تعالی به یې د جهنم د اور څخه وساتي" (بخاري).

په بل حدیث کې راځي: "د چا چې درې یا دوه لونه، یا خویندې وي، او د هغوی په هکله د الله تعالی څخه ویره وکړي، د هغوی سره نیکي وکړي، الله تعالی به یې جنت ته داخل کړي" (مسند أحمد).

۴- د اولاد په روزنه کې د الله تعالی څخه مرسته غوښتل: کله چې انسان د اولاد په روزنه کې د الله تعالی څخه مرسته او توفیق وغواړي، نو الله تعالی به یې په خپل مقصد کې کامیاب کړي، او که د الله تعالی پر ځای یې په خپل

ځان بروسه وکړه نو د ناکامۍ سره به مخ شي.

۵- اولاد ته دعا کول او د ښيرو څخه ځان ساتل: که اولاد نيک وي نو د هغوی لپاره دې په نيکۍ باندې د هميشه پاتي کيدو دعا غواړي، او که بد عمله وي نو د هغوی لپاره دې د هدايت دعا غواړي، اولاد ته د ښيرو څخه ځان وساتۍ، ځکه که هغوی بې لارې شي، يا څه تکليف ورته ورسيږي نو تر ټولو مخکې يې مور او پلار ته ضرر رسيږي.

۶- اولاد په ښو نومونو نومول: مور او پلار ته په کار دي چې پر خپل اولاد ښه نومونه کيږدي، او د بدو نومونو د ايښودو څخه دې ډډه وکړي، ځکه چې نوم د انسان سره د هميشه لپاره پاتې وي،

او نوم د انسان په کړو وړ هم اثر کوي، امام ابن قيم (رحمه الله) وايي: ډير ځله ناکاره نوم د ناکاره سړي وي، د الله تعالی په هر شي کې حکمت وي، هغه په زړونو کې د انسان د اعمالو سره سم نومونه اچوي تر څو نوم او نومول شوی برابر شي.

٧- د ښه نوم سره ښه کُنيه ايخودل، لکه: ابو عبد الله، ابو احمد او داسې نور، د دې لپاره چې بيا ځان ته ناکاره کُنيه غوره نه کړي، (پته دې نه وي چې دا عموما په عربي نړی کې رواج دی، په غير عربي ټولنو کې د دې التزام نشته).

٨- د هغوی په زړونو کې ايمان او صحيح عقيده کينول: په پلار او مور

باندې لازم دي چې په دې اړه جدي پام لرنه وکړي، او هر وخت د اولاد د عقيدې د سمولو کوشش وکړي، مثلا: د وړوکوالي څخه هغوی ته د توحيد او شهادت کلمې يادول، د هغوی په زړونو کې د الله تعالی سره مينه پيدا کول، هغوی ته دا ښودل چې هر څه الله تعالی پيدا کړي دي، مونږ ته هر څه الله تعالی راکوي، او چې کله لوی شي نو د عقيدې د کتابونو په لوستلو دی ورته امر وکړي.

۹- په ښو او نيکو اخلاقو روزل: پلار ته په کار دي چې اولاد پر تقوی، صبر، رښتيا، امانت داری، نظافت، نيک عملی، د خپلوانو سره په نيکی کولو، جهاد او علم باندې وروزي، د دې

لپاره چې د ځوان مردی سره په مينه کولو لوی شي او د اوچتو او ښو اخلاقو او نيکو کارونو سره مينه کوونکې وي.

۱۰- د بدو اخلاقو څخه پاک ساتل، او د هغې کرکه يې په زړه کې پيدا کول: مور او پلار دې د خپل اولاد په زړه کې د درواغو، خيانت، کينې، ضد، غيبت، چغلۍ، د بل مال اخيستل، د مور او پلار نافرمانۍ، د خپلوانو سره د اړيکو پريکول، بزدلۍ، ويره، ځان خوښونه او د ټولو ناوړه کارونو سره کرکه پيدا کړي، تر څو چې هغوی د دغه کارونو په ګنلو لوی شي او د هغې څخه نفرت کوونکې شي.

۱۱- د اولاد په مخکې ښه الفاظ استعمالول او د بې کاره خبرو څخه

ډېره کول،مور او پلار ته پکار دي چې اولاد ته په ښو الفاظو خبرې وکړي، او په ناوړه الفاظو دې يې له مخاطب کولو څخه ځان وساتي، اولاد ته دې د کنځلو، بدو ردو، او بحث مباحثې څخه ډېره وکړي.

کله چې مور او پلار د اولاد يو عجيبه کار وګوري نو ماشاء الله دې ورته ووايي، په ښه کار تر سره کولو دې ورته بارک الله فيک ووايي، او چې کله خطا کار وکړي نو ورته دې ووايي چې داسې کار مه کوه، او داسې نور ښه الفاظ دې ورته استعمال کړي چې هغوی پرې عادت شي او ژبې يې د بدو الفاظو د استعمال څخه وساتل شي.

۱۲- اولاد په ښو کارونو عادت کول: لکه د پرنجې ځواب ورکول، د اړرمي په وخت کې پر خوله لاس کيښودل، په ښې لاس خوراک کول، د اودس ماتولو آداب، د سلام اچول او د هغې ځواب ورکول، په تليفون د خبرو ځواب ورکول، ميلمنو ته ښه راغلاست ويل او دغه رنګ د واضحه خبرو کولو ښودنه، او دعربي ژبه تعليم.

نرۍ ځانګې په نرمۍ باندې سميږي
کلک لرکي په سمولو کې ماتيږي
مور او پلار يې
چې په کومه لار روان وي
ورسره اولاد په هغه
روانيږي

۱۳- اولاد ته د قرآن کريم په يادولو کې کوشش کول: اولاد ته د قرآن کريم يادول،د ټولو هغو کارونو څخه لوی ول په کار دی چې مور او پلار يې د خپل اولاد سره کولې شي، ځکه چې د قرآن کريم په يادولو باندې خپل وخت تيرول،د ټولو څخه په اوچت مقصد کې وخت لګول دي، په دې کار سره د اولاد وخت د بې ځايه تيريدو څخه ساتل کيږي او ورسره د اخلاقي فساد څخه هم ژغورل کيږي.

د قرآن کريم يادول د هغوی په اخلاقو او کړو وړو باندې هم ښه اثر کوي، او د هغوی په زړونو کې د پوهې او هوښيارتيا چينې را خوټکيږي.

۱۴- هغوی ته مسنون دعاګانې او د سهار ماښام اذکار يادول:

۱۵- په ښه کارونو کې د هغوی لپاره نمونه جوړيدل: په کار ده چې مور او پلار د اولاد لپاره په امانت، رښتيا او نورو ښو کارونو کې نمونه جوړه شي، دغه رنګ د هغوی په مخ کې په سمه توګه لمونځ کول،د دې لپاره چې هغوی د لمونځ طريقه ياده کړي او داسې نور.

۱۶- په وينا او عمل کې د اختلاف څخه ځان ساتل: دا مناسبه نه ده چې مور او پلار اولاد ته په يو کار حکم کوي او په خپله د هغې خلاف عمل کوي.

۱۷- وعده پوره کول: کله کله مور او پلار د اولاد څخه د ځان خلاصولو په

خاطر د هغوی سره وعدې کوي، او بیا یې نه پوره کوي، نو د دې اثر دا کیږي چې اولاد هم په وعده خلافۍ باندې عادت شي.

١٨- کور د ناوړه او فاسدو شیانو څخه ساتل: مور او پلار ته په کار دي چې اولاد د بدو شیانو څخه لیرې وساتي، او کور ته هغه شیان را نه وړي چې د اولاد د بې لارۍ سبب ګرځي.

١٩- د بدو شیانو په بدله کې ښه شیان راوړل: که مور او پلار یو طرف ته اولاد د ناوړه شیانو څخه ساتي، نو په کار ده چې د هغې په مقابل کې ورته ښه شیان راوړي، لکه: د لوبو شیان او هغه شیان چې دوی ته فائده رسوي او خپل فارغ وخت د هغې سره تیر کړي.

۲۰- د اخلاقي فساد له وسائلو څخه لیرې ساتل: لکه غیر اخلاقي فلمونه، عشقي قصې، هغه کتابونه او مجلې چې بې پردې عکسونه ولري، د سندرو اور یدل او داسې نور.

۲۱- د دیر ډول سینګار څخه منع کول: مور او پلار ته په کار دي چې خپل اولاد په ډول سینګار کې د اسراف څخه وساتي، دغه رنګ د بې پردګۍ، د کافرو سره د یو شان والي څخه دي هم وساتي، ځکه چې دا کار په هغوی کې سستي پیدا کوي، د هغوی څخه د نارینتوب ماده لیرې کوي، اخلاق یې خرابیږي او د نورو خلکو د دوکه کولو سبب ګرځي.

۲۲- اولاد پر سختۍ او کوشش عادت کول، او د سستۍ څخه لیرې ساتل: مناسبه

داده چې اولاد په سستۍ او آرام غوښتنې عادت نه کړی شي، ځکه د سستۍ او آرام غوښتنې پايلې ډيرې ناوړه وي، او د پښيمانۍ سبب ګرځي، په کار ده چې مور او پلار خپل اولاد په سختۍ او کوشش کولو عادت کړي، ځکه چې کوشش کول او سختۍ تيرول په دنيا او آخرت دواړو کې د کاميابۍ ذريعه ده.

آرام غوښتونکې سړی د ټولو څخه زيات ستړې وي، او ځان ستړې کوونکې تر ټولو زيات په راحت کې وي، د دنيا او آخرت د کاميابۍ لاره د سختو او تکليفونو په پل تيريږي، د تکليف څخه وروسته راحت راځي او د راحت څخه وروسته تکليف.

۲۳- اولاد سهار وختي ويښول: ځکه چې دغه وخت د انعامونو وخت دی، د فائدي حاصلولو وخت دی، څوک ډيره فائده اخلي څوک لږه، څوک چې د کوچنيتوب څخه په وختي ويښېدو عادت شي نو چې لوی شي نو بيا ورته وختي ويښيدل اسان وي.

۲۴- د بې ځايه خبرو، ډير خوراک او خوب او د خلکو سره د بې ځايه ناستې څخه ساتل: بې ځايه کار کول د تاوان سبب ګرځي، د د نيا او آخرت د خير څخه انسان محرموي، د دې وجې څخه ويل کيږي: څوک چې ډير خوراک کوي، او به ډير څښي، بيا خوب ډير کوي، او ډير خوب تاوان دی.

۲۵- په کوچنيتوب کې اولاد جومات ته للو ته هڅول او په لوى والې کې په جماعت سره د لمونځ په ادا کولو امر كول: پلار دى اولاد د اوه کلنۍ څخه مخکې جومات ته للو ته تشويق کړي، د خپل ځان سره دې جومات ته بيايي، او په جومات کې دې د بې ځايه کار څخه منع کوي، او چې کله لوى شي نو د هغوى څارنه دې کوي، او په جماعت سره دې ورته د لمونځ کولو امر کوي.

۲۶- د اولاد د خوښو شيانو څارنه، او د هغوى د پټو قوتونو د راښکاره کولو کوښښ کول: مور او پلار دې د اولاد څارنه کوي چې هغوى د کوم کار د ښه سر ته رسولو توان لري، په هغې کې دې ورسره مرسته وکړي، او هغه لارې چارې

دی ورته برابری کړي چې هغوی په خپل کار کې ښه وده وکړي.

امام ابن قيم (رحمه الله) وايي: مناسبه دا ده چې د ماشوم پر حال دی اعتماد وکړای شي چې هغه د کوم کار د سر ته رسولو ښه جوګه دی، نو مور او پلار دی په دې پوهه شي چې دا ماشوم هم د دغه کار لپاره پيدا شوی دی، نو په بل کار دې نه مجبوروي، که اولاد په هغه کار مجبور کړل شي چې مينه ورسره نه لري نو هر ګز په دغه کار کې نه شي بريالی کيدای.

که مور او پلار ووينې چې بچې يې پوهيدای شي، زده کړه کولې شي، يو شي پيژندلې شي، نو دا د دی علامه ده چې هغه علم حاصلولې شي، او که چرته د

تجارت، اخستلو خرڅولو سره يې مينه وه، يا يې د بل کسب او کار سره علاقه وه، نو د هغې د لاس ته راوړلو زمينه دې ورته برابره کړي.

۲۷- د اولاد زړورتيا زياتول: هغوی د جرأت او بهادرۍ په قدر پوهول، په هغوی کې په خپل ځان اعتماد پيدا کول،د دې لپاره چې د عزت، بهادرۍ او زړورتيا ژوند تير کړي، خو په دې شرط چې دا هر څه د ادب او د بل د احترام د ساتلو په چوکاټ کې وي، په دې کار سره به اولاد د ذلت، ويرې، سپک والي اوچاپلوسۍ څخه وساتل شي.

۲۸- د اولاد سره مشوره کول: لکه د کور په ځينو کارونو کې کول د دې لپاره چې د هغوی د فکر او سوچ

اندازه معلومه کړی شي، مثلا: د کور لپاره سامان اخيستل، د موټر رنګ او قسم، د چکر لګولو ځاي او وخت او د داسې نورو کارونو په هکله د هغوی سره مشوره کول، او بيا د هغوی څخه د هر يو د راي سبب معلومول،په دې کار سره په اولاد کې خپلواکي او اعتماد پيدا کيږي، د هغوی ذهن وده کوي او د رای ورکولو قدر ورسره پيدا کيږي.

۲۹- اولاد ته ځينې کارونه سپارل: لکه د پلار په غير حاضرۍ کې د کور حفاظت او څارنه کول، د مال لګول، خپل ځان سره مال ساتل، او دا په دې ډول چې هغوی ته هره مياشت يا اونۍ يو څه روپۍ ورکړل شي تر څو هغوی پرې د کور ضروريات پوره کړي.

۳۰- اولاد په تولنيزو كارونو كې په برخه اخيستلو عادت كول، مثلا: د خپل دين خدمت كول، د خپلو مسلمانانو ورونو ضرورتونه پوره كول، د الله په لاره كې جهاد كول، د الله تعالى طرف ته بلنه وركول، د محتاجو او اړمنو سره مرسته كول، د غم ځپلو په غم كې شريک كيدل، د خيريه ټولنو سره مرسته كول او داسې نور.

۳۱- د فيصلې په كولو روزل، مثلا: پلار دی په خپل اولاد كې يو كس ته په يو كار كې د فيصلې كولو اختيار وركړي، كه صحيح فيصله يې وكړه هغه دی ومنې او شاباشي دی ورته وركړي او نور دی هم تشويق كړي، خو كه د فيصلې په كولو كې خطا شو، نو هغه دی په نرمۍ

اصلاح کړي، په دې کار سره په اولاد کې د فيصلې کولو قوت پيدا کيږي.

۳۲- د اولاد د طبيعت د پيژندلو کوشش کول: تر څو د هر يو سره د هغې د مزاج او طبيعت مطابق چلند وکړای شي.

۳۳- د اولاد د عمر مطابق د هغوی خيال ساتل: پلار او مور ته په کار دي چې د اولاد د عمر مطابق د هغوی خيال وساتل شي، ځکه چې اولاد لويږي نو د فکر سطحه يې هم لوړيږي، نو په کار ده چې مور او پلار چلند د خپل اولاد سره د هغوی د عمر برابر وي، او د هميشه لپاره دی ورسره د وړو په شان چلند نه کوي.

۳۴- د مخامخ قهر او غصې څخه ډډه کول: خصوصا د نوی ځوانی په وخت کې،

په کار ده چې هغوی ته په نرمۍ قناعت ورکړل شي، د هغوی سره خبری اترې وشي او په نرمۍ پوهه شي.

۳۵- د اولاد سره کیناستل: پلار که هر څومره ډیر کارونه ولري خو یو وخت دی د اولاد سره د کیناستلو لپاره وټاکي، د هغوی سره دې خبرې کوي، هغوی ته دی نصیحت کوي، مینه او محبت دی ورسره کوي، او کومو شیانو ته چې ضرورت ولري هغه دی ورښایي، هغوی ته دی مقصد لرونکی قصی بیانوي.

د اولاد سره د مور او پلار کیناستل ډیر ضروري دي، او دیر ښه اثر لري، او دا یوه ازمایل شوی خبره ده چې کوم پلار د اولاد سره نژدې کیږي، د هغوی سره کیني، د هغوی سره خبرې

اترې کوي نو د هغې اثر په اولاد کې ګوري، ځکه چې په دې کار سره اولاد د نفسي راحت احساس کوي.

کوم پلرونه چې د دنيا کارونو د خپل اولاد سره د کيناستلو څخه بې پرواه کړي وي، نو د دغه بې پروايي اغيزه په خپل اولاد کې ويني، په دې صورت کې اولاد د داسې حالت سره مخامخ کيږي چې د هغوی مخې ته تياره وي، د دنيا په ژوند کې کوم لارښود نه ويني، نو د ژوند په لاره کې پړ مخې پريوځي، او د سمې لارې نه ليرې کيږي، او کله کله د دې کار په وجه د دغه رنګ پلرونو څخه اولاد کرکه او نفرت کوي، د کور څخه تختي، او د فساد او بې لارې په کنده کې پريوځي.

۳۶- د اولاد تر مینځ عدل کول: ځمکه او اسمانونه په عدل ولاړ دي، انسان د عدل څخه پرته سمې لارې ته نه راځي، نو مور او پلار ته په کار دي چې د اولاد په مینځ کې د عدل او برابری څخه کار واخلي، او یو دی په بل نه غوره کوي، غوره والې په راکړه ورکړه کې وي او که په مینه او محبت کې وي، په هر څه کې باید د اولاد تر مینځ عدل وکړی شي.

۳۷- د اولاد سره مینه او محبت کول: هغوی ته ورښودل چې مور او پلار د دوی سره مینه لري، ځکه چې اولاد مینې او محبت ته اړتیا لري، که مور او پلار اولاد ته پوره مینه ورنه کړي، نو

هغوی به بیا مینه او محبت د کور څخه بهر د بل چا څخه غواړي.

۳۸- پر اولاد باندې په ښه طریقه خرچ کول: د هغوی ضرورتونه پوره کول، تر څو هغوی مجبوره نه شي او په نورو طریقو د مال پیدا کولو کوشش و نه کړي.

۳۹- په اولاد کې د قربانی (سرښندنې) مینه پیدا کول: دا په دې شکل چې په خپل مینځ کې د یو بل سره مرسته او کومک وکړي، د یو بل سره مینه او محبت ولري، په سخا باندې عادت کړی شي، د نورو انسانانو خیال وساتي تر څو اولاد داسې لوی نه شي چې فقط د خپل ځان فکر ورسره وي، او د بل هیڅ چا غم ورسره نه وي، په قربانی باندې

اولاد روزل ډیر کورني مشکلات له مینځه وړي، او په کور کې د میني او محبت، آرام او امن فضا رامینځ ته کیږي.

۴۰- د اولاد خبرو ته غوږ نیول: کله چې اولاد خبرې کوي، نو پلار دی د هغوی خبرو ته غوږ ونیسي، او هغوی ته دی دا وښايي چې د دوی خبرې ډیرې مهمې دي چې پلار یې ورته غوږ نیولی دی.

پلار ته په کار دي چې کله یې په اولاد کې کوم یو خبرې کوي خصوصا ماشوم، نو هغه ته دی توجه وکړي، د هغه خبرو ته دی اهمیت ورکړي، د هغه سوالونو ته دی ځواب ورکړي، د دې کار ډیرې مثبتې پایلې دي، ځکه چې:

- ✓ د خبرو په یادولو کې ورسره مرسته کوي.

- ✓ د فکر په برابرولو کې ورسره مرسته کوي.
- ✓ د بل خبرو ته په غوږ نيولو او په ښه اوريدو عادت کيږي.
- ✓ د ماشوم په شخصيت ښه اثر کوي.
- ✓ د هغه ذهن ورسره قوي کيږي.
- ✓ د پلار سره يې مينه زياتيږي.

۴۱- د هغوی د کړو وړو څارنه کول، او د هغوی څخه پوښتنه کول، لکه:

- د هغوی د لمونځ، اودس او نورو عبادتونو څارنه کول.

- په کور کې د تليفون څارنه کول، تر څو اولاد يې غلط استعمال نه کړي.

- د هغوی د جيبونو او الماریٔ کتل په داسې شکل چې هغوی پرې پوهه نه شي، لکه د خوب په وخت کې، يا چې کله

مکتب ته لاړ شي، او بیا ورسره مناسب چلند کول.

- د هغه د ملګرو په هکله معلومات لاس ته راوړل.

- د هغوی د لوستلو د موادو څارنه کول، او د هغه کتابونو د لوستلو څخه منع کول کوم چې د هغوی دین او اخلاقو ته ضرر رسوي، او هغه کتابونه ور په ګوته کول چې هغوی ته فایده رسوي.

۴۲- د اولاد د نیکانو ملګرو عزت کول:

پلار دی خپل اولاد د نیکو او ښو ملګرو دوستۍ ته تشویق کړي، همیشه دی ورسره د اړیکو ساتلو توصیه کوي، کله چې هغوی د خپل دوست لیدو ته راځي، نو هغوی ته دې په ښه ډول ښه راغلاست وايي، د هغوی سره دې لیدل کتل کوي،

هغوی ته دې تحفې ورکړي، د هغوی سره دې خبرې اترې کوي، د هغوی او د کورنۍ په هکله دې ورڅخه پوښتنه کوي.
په دې کار سره به د اولاد دوستان په خپل قدر پوهه شي، او اولاد به هم په خپل قدر پوهه شي، نو په نتيجه کې به اولاد د مور او پلار تابعدار او قدر کوونکې شي.
د اولاد د ښو دوستانو څخه کرکه او نفرت کول ښه کار نه دی، ځکه چې په دې سره اولاد د نيکو دوستانو پر ځای د بدو او ناکاره دوستانو سره دوستانه جوړوي.
۴۳- د ناکاره ملګرو څخه د اولاد په ليرې ساتلو کې د حکمت څخه کار اخيستل: پلار ته مناسب نه دي چې د

سختۍ په کولو لاس پورې کړي، او د اولاد په مخکې د هغه د ملګرو سپکاوی وکړي، او يا يې په ځغليدو وشړي، ځکه چې اولاد د هغوی سره اړيکې لري، او د هغوی په ملګرتيا قانع شوي دي.

په کار ده چې په دې کار کې د نرمۍ څخه کار واخلي، او اولاد دی د هغوی د ملګرتيا په بدۍ قانع کړي، او د ناوړه ملګرو د ضرر څخه دی خبر کړي، د دې څخه وروسته دی بيا د هغه په ويرولو او د هغه سره په سختۍ شروع وکړي، او هغه ته دې وښايي چې دې يې د ناکاره ملګرو څخه ساتي، د هغه د ملګرو د پلرونو سره دی رابطه وکړي چې خپل اولاد د ده د اولاد څخه ليرې وساتي، که پلار په دې کې ناکام شو،

نو نورې طريقې دې اختيار کړي، تر څو اولاد يې د ناکاره دوستانو د ملګرتوب څخه خلاص شي.

۴۴- د اولا په ځينې کارونو، لکه: بې فايدې کار او يا غصه باندې ځان نا غرضه کول.

۴۵- د اولاد د خطاو د غلطيو څخه ځان ساتل: مور او پلار ته په کار دي چې د اولاد وړه خطا هغوی ته غټه ښکاره نه کړي، ځکه خطا د هر چا څخه کيږي، او په هر کور کې تر سره کيږي.

۴۶- د يو طرف څخه نرمي ښودل: مثلا، کله چې مور په اولاد سختي وکړي، نو بايد چې پلار يې نرمي ښکاره کړي، او که پلار سختي وکړي نو بايد مور ورسره نرمي وکړي، لکه کله د اولاد څخه غلطي

وشي نو پلار ورته په قهر وي، نو له دې امله هغوی د پلار څخه پټيږي، نو مور دې ورته تسلي ورکړي او په نرمۍ دی ورته د هغوی غلطي ښکاره کړي، په دې کار به اولاد پوهه شي چې مور او پلار دواړه په حقه دي، نو د پلار د قهر به هم احترام کوي او د مور احسان به هم ياد ساتي او په نتيجه کې به ځان بيا د هغه غلطۍ څخه ليرې ساتي.

۴۷- سزا ورکول: اګر چې د اولاد سره نرمي د هغوی د روزلو لپاره ډيره فائده لري خو کله انسان سختۍ او سزا ورکولو ته اړ کيږي خو په دې شرط چې سزا ورکول به د غصې او ناپوهۍ په نتيجه کې نه وي، بلکه سزا به په هغه

صورت کې وي چې د اصلاح بله لاره پاتې نه شي.

باید اولاد ته پر هغې غلطی سزا ورنه کړل شي چې په اول ځل تري شوی وي، او داسې سزا هم نه وي چې هغه لوی تکلیف ورواړوي، او د نورو خلکو یا ملګرو په مخ کې دی هم سزا نه ورکوي.

د سزا ورکولو ډیرې طریقې دي، لکه: د هغې صفت نه کول، یا ورته ښودل چې پلار ورځخه خفه دی، یا ورته په خبرو زورنه ورکول او داسې نور.

دا نفسي سزا ده، او بدني سزا هم ورکولې شي چې درد بیاموومي خو چې نور ضرر ورته ونه رسیږي.

۴۸- اولاد ته د خطا د سمون موقع ورکول: پلار ته په کار دي چې اولاد ته

د خپلې غلطۍ د سمون موقع ورکړي، د دې لپاره چې ښو کارونو ته ورسيږي او د غلطۍ څخه وروسته سم کارونه وکړي، پلار ته نه دی پکار چې د اولاد په اوله غلطۍ هغوی داغ دار کړي، او هميشه يې په هغه غلطۍ ملامت کوي.

۴۹- د ښځې او خاوند تر مينځ تفاهم:
مور او پلار ته په کار دي چې خپل منځي مسائل د يو بل د پوهولو له لارې حل کړي، او د اختلاف او بې اتفاقۍ څخه ځان وساتي، د دې لپاره چې کور په آرام وي، او په کور کې مينه او محبت وي، نو اولاد هم په داسې کور کې آرام او راحت احساسوي، محبت او خوشحالي بيامومي، چې په نتيجه کې يې د کور سره د بهر ګرځيدو څخه پاتې

کېږي.

۵۰- د طلاق په حالت کې د الله تعالى څخه ويره کول: که چرته د ښځي او خاوند تر مينځ جوړ جاړې او تفاهم ممکن نه وي، او د طلاق ضرورت پيښ شي، نو دواړو ته په کار دي چې په دې حالت کې د الله تعالى څخه وويريږي او خپل اولاد دې دخپل ضد او کينى څخه نه قربانوي، او اولاد دى ديو بل په مخالفت نه راپاروي، بلکه په کار ده چې اولاد سره په نيک کار کې مرسته وکړي، او هغوى ته دى د يو بل په مرسته توصيه وکړي، د دې پر ځاى چې د يو بل په خلاف يې ولمسوي او د هغوى په زړونو کې د يو بل څخه کينه پيدا کړي چې په نتيجه کې به يې له دواړو

څخه نفرت پيدا شي او د يو خبره به هم نه مني.

۵۱- د اولاد لپاره مناسب ښوونځی کتل او د هغوی څارنه کول: د اولاد لپاره دی د ښوونځي د کتلو پر وخت وګوري چې شاګردان، اداره، استاذان او تعليمي نصاب څه رنګ دی، استاذان د شاګردانو په روزنه کې څومره زيار باسي، او د هغوی د اخلاقو او عاداتو د سمون څومره پاملرنه کوي.

په ښوونځي کې د شموليت څخه وروسته په کار ده چې پلار خپل اولاد وڅاري چې هغوی څومره په سمه لار روان دي، هسی نه چې د خپل اولاد څخه بې پروا شي او صبا ته د هغه څه په خلاف وروزل شي چې دی يې هيله لري.

۵۲- په کور کې د پوهنې حلقه جوړول: چې په هغې کی د اولاد د سویې سره سم کتابونه لوستل کیږي، د دې کار په پایله کې به اولاد لوستل، غوږ نیول او د خبرو اترو ادبونه زده کړي.

۵۳- د اولاد تر مینځ درسي مسابقې جوړول او هغوی ته انعامونه ورکول.

۵۴- په کور کې یو مناسب کتابتون جوړول چې په هغې کې د اولاد د عمر او پوهې سره سم کتابونه او کیسټونه موجود وي.

۵۵- اولاد ځان سره د ذکر، پوهې او درس مجلسونو ته بوتلل.

۵۶- د اولاد سره د کور څخه بهر د چکر لړولو پروګرام جوړول، د دې لپاره چې پلار ورته ډیر څه زده کړي، او د هغوی

د خيالاتو او احساساتو څخه هم خبر شي.

۵۷- د پخوانيو نيکانو خلکو سره د هغوی تعلق جوړول، د دې لپاره چې د هغوی په پل باندې لاړ شي، او د هغوی تګ لاره وپيژني، او هر يو د خپل شوق مطابق په هغوی کې ځان ته نمونه پيدا کړي.

که په کوم يو کې د علم او پوهې شوق وي، نو هغه به په علم کې د هغوی تابعداري وکړي، او که د بهادرۍ او زړورتيا خاوند وي، نو په دغه کار کې به د ځان لپاره په هغوی کې نمونه ولټوي، او که په کوم يو کې سست وي، نو په هغوی کې به داسې يو څوک

بیاموميي چې په ده کې به همت او روح پیدا کړي.

د پخوانیو نیکانو تاریخ د خیر څخه ډک دی، نو څومره ښه خبره ده چې انسان خپل ژوند د هغوی سره وتړي، د دې پر ځای چې خپل ژوند د کوم لوبغاړي، یا سندر غاړي سره وتړي او هغه د ځان لپاره نمونه جوړه کړي.

۵۸- لونو ته هغه څه زده کول چې هغوی ورته د خپل دین او دنیا په کار کې اړتیا لري، څومره خلک دي چې په دې کار کې د بې پروایی څخه کار اخلي، څومره ښځي دی چې هغوی مثلا د حیض، نفاس او نورو خصوصي مسائلو څخه نا خبره دي، سره له دینه چې په دغه مسائلو پورې د دین دوه اهم بنیادونه

لمونځ او روژه تړاو لري، څومره ښځې دي چې هغوی په صحيح طريقه د لمونځ کولو څخه ناخبرې دي.

هر پلار ته پکار دي چې خپلو لوڼو ته د دين ضروري مسايل زده کړي، او هغوی په غيرت، پاکدامنۍ، حيا او ستر باندې مجبوره کړي، دغه رنګ مور او پلار ته په کار دي چې خپلو لوڼو ته د کور کارونه لکه د جامو پريمينځل، پخلې کول، ګنډل، د کور برابرول او داسې نور زده کړي.

۵۹- لوڼه بهر ته له يواځې وتلو څخه منع کول: که بازار ته ځي، يا ډاکټر ته، يا بل ځای ته خو په کار ده چې خپل محرم ورسره وي، او په غير د ډير ضرورت څخه دی د کوره نه ووځي.

۶۰- ځامن د ښځو سره او لوڼه د سړو سره د مشابهت او ورته والې څخه منع کول.

۶۱- اولاد د کافرو د مشابهت او يو شان والي څخه ليرې ساتل.

۶۲- ځامن د ښځو سره او لوڼه د سړو سره د يو ځاى کيناستلو څخه منع کول، په کار ده چې هلکان د سړو، او لوڼه د ښځو په مجلس کې کيني.

۶۳- د توان او ضرورت په حالت کې اولاد ته د بلوغ د رسيدو سره سم د واده بندوبست کول په کار دي.

۶۴- خپلې لوڼه هغه چا ته ورکول په کار دي چې د اخلاقو او دين په لحاظ سره غوره او بهتر وي.

۶۵- د روزنې پايله زر نه غوښتل: کله چې پلار د اولاد په اصلاح کې خپل وس وکړي، او هغوی د ناوړه کارونو څخه منع کړي، هغوی ته نصيحت وکړي، نو د دې هر څه سره دی د خپل کوشش نتيجه زر نه غواړي، بلکه په کار ده چې د صبر او زغم څخه کار واخلي او د هغوی لپاره دی دعا وغواړي، او د هغوی په اصلاح کې دی نور هم کوشش وکړي، کيدای شي يو څه وخت وروسته د پلار خبرې په اولاد اثر وکړي او اصلاح شي.

۶۶- د نا اميدۍ څخه ډډه کول: کله چې پلار د خپل اولاد نافرماني او سرغړاونه ووينې، نو دهغوی د اصلاح څخه دی نه نا اميده کيږي، ځکه د الله د رحمت څخه نا اميده کيدل د مؤمنانو

صفت نه دی، بلکه په کار ده چې انتظار وکړي تر څو الله تعالی د ده کوشش قبول کړي، کیدای شي د الله رحمت یو وخت اولاد سمې لارې ته راواړوي او د نافرمانۍ څخه یې وساتي.

۶۷- پلار دی په دې ځان پوهه کړي چې نصیحت هیڅ کله هم بې فایدي نه وي، که د پلار نصیحت په اولاد اثر ونه کړي نو د الله تعالی په وړاندې خو به یې بهانه جوړه وي، بله دا چې نصیحت هیڅ کله نه هم ضایع کیږي ، د نصیحت مثال په ځمکه کې د تخم په شان دی، چې الله تعالی د هغې ساتنه کوي او هغه ته وده ورکوي، نصیحت خپله میوه یو ځل ورکوي، یا خو به اولاد زر لارې ته راشي، یا به یو وخت په خپله اصلاح فکر

وکړي، او یا به له زیاتې بې لارۍ څخه وژغورل شي.

۶۸- اولاد سره په نیک کار کې مرسته کول: د مور او پلار سره احسان او مرسته کول په اولاد باندې لازم دي، خو مور او پلار ته هم په کار دي چې د اولاد سره په نیکې کې مرسته وکړي او هغوی په نیکې کولو ډاډه کړي، او د هغوی د نیک کار په مخ کې خنډ جوړ نه کړي.

۶۹- د اولاد نیک کار یاد ساتل، او د هغوی شکر ادا کول، او همیشه ورته د هغه کار یادول، د دې لپاره چې په اولاد کې نور هم د نیکۍ او احسان کولو مینه پیدا شي او د همیشه لپاره د نیکۍ کارونه وکړي.

۷۰- د اولاد په روزنه کې د پوهې د خاوندانو سره مشوره کول، مثلا: علماء کرام، دعوتگران، استاذان، روزونکي او ټول هغه څوک چې په دې اړوند ورسره پوهه وي او د ځوانانو په حالاتو پوهيږي.

۷۱- د روزنې په هکله کتابونه لوستل: هغه کتابونه چې د تربيت به هکله ځانگړي شوي وي، هغه بايد ولوستل شي او گټه دې ترې واخستل شي، (داسې کتابونه په هره ژبه کې شته په ځانگړې ډول به عربي ژبه کې مخکينو او اوسنو علماؤ ليکنې کړي دي).

۷۲- په دنيا او آخرت کې د روزنې گټې په ياد لرل، ځکه چې دا کار د پلار سره د صبر په پيدا کولو کې مرسته

کوي، که د پلار د روزنې په نتيجه کې اولاد نيک شي، نو د مور او پلار لپاره به په دنيا کې د سترګو يخوالې او په آخرت کې د ثواب سبب شي، او که نه نو د هغوی د شر څخه به په امن شي.

۷۳- د روزنې د پريښودو مشکلات او نقصانونه په ذهن کې ساتل: ځکه چې اولاد د سړي اولاد دی، او په هيڅ شکل ورڅخه نه جدا کيږي، که د هغوی په روزنه کې د غفلت او بې پروايۍ څخه کار واخلي نو په دنيا کې به دخفګان.

۷۴- او په آخرت کې به يې د عذاب سبب شي.

د اولاد په روزنه کې اخرنۍ خبره دا ده چې پلار بايد د اولاد لپاره د هر هغه شي کوشش وکړي چې هغوی ته فايده

رسوي، او د هر هغه شي څخه يې وساتي چې دوی ته اوس يا وروسته تکليف رسوي.

***وتمت بالخيرومن الله توفيق***